۱۰/۱۰/۰۷

## "یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!"


**لیو هو – لان**
انځورگر: منگ چینگ – چیانگ
ژباړه: فرهاد ویاړ


(لومړی برخه)



**ليو هو- لان** د چين **شنسي** ولايت د **دن شوي** ايالت **په يوان چوهسي** کلي کې نرۍ ته راغله. هغه د جګړې د فشار په کلونو کې ژوند کاوه. ليو هو- لان د کمونيست ګوند د رهبرۍ په مرسته او د **مائوتسه دون** د اند په زده کړو سره د يوې معمولي کليوالي انجلۍ څخه يوه پرولتره مبارزه شوه. هغې په دښمن څه پروا نه کوله او له مرګه نه ډاريده. ليو هو- لان په ۱۹۴۷ کې، په داسې حال کې چې د يو کمونيست ازښتمن خصوصيتونه يې پيدا کړي و، خپل ژوند د ګوند او ولس قربان کړ. که څه هم د هغې ژوند لنډ و، خو د هغې انقلابي روح تلپاتې دی. صدر مائو د چين د ولس ستر لاربنود، ليو هو-لان په دې وينا وویاړله:

**"يو ستر ژوند! يوه پرتمينه مرينه!"**



دلته د ون شوی ايالت د يوان چوهسي کلی دی چې په شنسي ولايت کې واقع شوی دی. له آزادۍ مخکې، د دې ځای د کليوالو ژوند په بيوزلی او نيستی کې تيريده. د جاپاني ضد جګړې په موده کې، د اتم ستون پوځ د صدر مائو په رهبری دلته راغی او د خلکو پناه او ملاتړ وګرځيد.



ډېر ژر د کمونیست ګوند تر رهبرۍ لاندې، د **ون شوی** په ایالت کې د جاپان ضد یو دموکراتیك حکومت جوړ شو، چې **کویونګ – تي ین** د ګوند یو تن غړي د هغه مشري کوله. یوه ورځ ملګري **کو**، یوان چوهسي ته راغی چې د صدر مائو لاربنودنې د جاپانیانو د تیري په وړاندې د مقاومت او ملت د ژغورنې په اړه تشریح کړي. او د تیري کوونکو په وړاندې د مقاومت لپاره د هغه ځای خلك راغونډېدو ته راوبلي. لیوهو- لان د ملګري کو څخه ډېرې پوښتنې وکړې. ملګري کو د څو انقلابي داستانونو په ویلو سره، د هو- لان او د ملګرو ځوابونه ورکړل.



وروسته له دې چې ملګرې کو، دې سیمې ته راغی، په یوان چوهسي کې د کروندګرو یوه اتحادیه او د ماشومانو یو لښکر جوړ شو، او  د استقامت لومړني کارونه پیل شول. د اتم ستون پوځیانو به اکثراً د کلیوالو لیدنې ته راتلل او کوچنې هو- لان له هغوي غوښتل چې هغې ته د ډېرو داستانونو کیسې وکړي. ځینو مبارزینو د صدر مائو په رهبرئ د سره پوځ د ستر لاریون، او ځینو نورو د جګړې د ډګر له اتلانو څخه غږېدل. لیو هو- لان د صدر مائو سره مینه لرله او اتلان یې ستایل. له ځان سره به یې ویل: "کله چې غټه شم، د اتم ستون له پوځ سره به یوځای شم."



کله چې لیوهو- لان لس کلنه شوه، د ماشومانو لښکر سره یوځای شوه. هغه وخت دښمن د دې لپاره چې کار یو خواته کړي، تل یې پر خلکو برید کاوه. هو- لان به اکثراً خپله نیزه اخیستله او پهره به یې کوله او ملګرې یې **یو-مي** به هم صحرایي سابه راټولول.